افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com

تاریخي	Historical

ليکوال: ملک اشفاق
ژباړن: زاهد خليلي
۰۱ نومبر ۲۰۱۴

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۳

السخاوي د ابن حجر نه نقلوي:

ابن خلدون به د خلکو سره ډېره ښه رويه کوله، هغه به دروغجنو شاهدانو ته سختې سزاګاني ورکولي، کله، به چې د چا نه خفه شو؛ نو چغه به يې کړه او د خپل ځای نه به پاڅيده، ويل به يې، دا په زندان کې واچوئ.

د څو مياشتو د تيريدو وروسته يې پر ضد د سازشونو طوفان پيل شو، هغه وايي، چې هغه د شاهي سرپرستۍ نه محروم شو، سربيره پر دې يو بل غم هم ور زيات شو، هغه يې د ښځې، ماشومانو او جائداد د لاسه ورکول وه، مصر ته په راتګ سره هغه غوښتل، چې ښځه او ماشومان دې هم دلته راشي؛ خو د تونس سلطان چې د ابن خلدون په مصر ته تګ باندې خوښ نه وه، هغوی ته يې د تلو اجازه نه ورکوله، سلطان غوښتل، چې ابن خلدون بايد بيرته تونس ته راشي، د مصر د سلطان په غوښتنه يې د ابن خلدون ماشومانو ته د تلو اجازه ورکړه، ابن خلدون دغه د غم ډکه پيښه داسې بيانوي: زه د قاضي القضات د چوکۍ نه محروم شوم، سربيره پر دې د غم يوه بله پيښه هم رامنځته شوه، هغه د خپلو ماشومانو د جدايي غم وه، هغوی چې په کوم بحري بيړۍ کې مصر ته راتلل، هغه په لاره کې د يو سخت طوفان په وجه له منځه ولاړه او ډوبه شوه، ما خپل ماشومان او جائداد ټول د لاسه ورکړل، دې کار زما ملا راماته کړه، ما د دندې څخه د استعفا پريکړه وکړه.

ددې پيښې وروسته تاريخپوه د قاضي القضات د دندې هم ګوښه کړای شو، هغه وايي، چې تاسو داسې فکر مه کوئ، چې زه د خپلې دندې نه ليرې کړای شوی يم، بلکه ما په خپله خوښه دنده پرې ايښې ده، هغه وايي، سلطان زما سره په ډيره ښه توګه چلند کاوه، هغه زما په غم باندې ښه پوهيده، هغ پوهيده، چې زه به په دې وخت خپله دنده په ښه طريقه سره سرته ونه شم رسولای، هغه زما د استعفی غوښتنه ومنله، عامو او خاصو خلکو زما په حالت باندې ډير افسوس وکړ او ما سره يې همدردي وکړه، زما څخه غوښتنه وشوه، چې ژر بايد راشم او خپله دنده بيا پيل کړم. ابن خلدون موږ ته دا رابنايي، چې د دندې څخه ليرې کيدل د هغه پر ضد د سازشونو او دښمنيو پايله وه، ابن خلدون د خپلې دندې نه په لومړي ځل په ۷۸۷ هـ د جمادي الاول په مياشت کې، چې د ۱۳۸۵ م کال د جولايي سره سمون خوري ليرې کړای شو، ياني اووه مياشتې يې دغه دنده تر سره کړه، ددې وروسته هغه خپل وخت په ليکلو او زده کړه باندې تېر کړ.

هغه په ممتحياه دارالعلوم کې تدريس کاوه، وروسته کله، چې سلطان په بين القصر سيمه کې يوه نوې مدرسه (ظاهريه برقوق دارالعلوم) په نوم تاسيس کړه؛ نو ، ابن خلدون هلته د مالکي فقهي د استاذ په حيث مقرر شو، هلته يې لومړنی

خطبه ډېر شانداره وه، هلته عوام او امرین ډېر زیات موجود وه، په دې خطبه کې ابن خلدون خپل فصاحت او بلاغت وښود، د سلطان مدحه او صفت یې وکړ او د هغه لپاره یې د خیر دعا وکړه، هغه په دغو دواړو مدرسو کې درس ورکاوه، تر څو، چې په ۷۸۹ هـ کال کې د حج میاشت راورسیده او د حج د تلو نیت یې وکړ، سلطان هغه ته اجازت ورکړ د شعبان په نیمایې کې یې قاهره پرېښوده او د سمندر په لاره حجاز ته ورسیده، د حج د فریضې د اداء کولو نه وروسته د سمندر له لارې کوسیر ته ورسید، د هغه ځایه د نیل په لاره بیرته قاهرې ته راغی، هلته په رسیدو سره یې د سلطان سره وکتل او ورته یې وویل، چې په کعبه شریفه کې یې سلطان ته زیاتې دعا ګانې وکړې، سلطان ترې ډیر خوشاله شو او هغه یې په سلطانیه دارالعلوم کې د استاذ په ځای د مهتمم په دنده وګماره، هغه د ۷۹۱ هـ کال د محرم د میاشت پورې دا دنده اجراء کړه، د لومړي درس په دوران کې د معمول مطابق ډېر زیات عام او خاص خلک راټول شوي وه، هغه اعلان وکړ، چې د امام مالک کتاب موطا به د نصابي کتاب په شکل تدریس کیږي، هغه په خپله وایي، چې د امام مالک د ژوند حالات، د هغه کارونه، نظریات او اعتقاداتو باندې یې رڼا واچوله، په پای هغه خپله خبره په ډېر ویاړ سره داسې پای ته رسوي: زما خطبې خلک حیران کړل، د هغوی په نظرونو کې زما لپاره ډېر احترام او عزت ښکاریده، زما خطبې د هغوی په ذهنونو کې جادو وکړ، عام او خاص ټول په دې پوه شول، چې زه په یقیني ډول د خپلې دندې حقدار وم.

ادبي بوختیاوې

څه وخت وروسته ابن خلدون په خپلو څیړنو او تحقیق باندې بوخت شو، هغه د خپلو سوانحو لیکل وځنډول، د ۷۹۷ هـ کال د پیل نه وروسته یې د تاریخ اړوند لیکل پیل کړل، د ۸۰۷ هـ کال پورې یې د خپل ژوند ټول حالات او کتابونه ولیکل، یانې د مرګ نه څو میاشتې مخکې یې بشپړ کړل، موږ به دلته د هغه د چاپ شوي کتاب پر ځای د هغه د اصلي کتابونو نه استفاده وکړو؛ ځکه، اصلي کتاب یې نسبت چاپ شویو کتابونو ته ډېر مستند دی.

په دې دوران کې د هغه په ژوند کې کومه مهمه واقعه نه دی پیښه شوې، هغه د قاهرې د سلطان او د شمالي افریقا د سلطانانو تر منځ د اړیکو په ښه کولو باندې بوخت وه، هغه د شمالي افریقا د واکمنو، **الناصر قلون** او **بنو مارین** د پاچاهانو تر منځ د لیکونو د استولو او ډالیو د لیږلو ذکر کوي، هغه د هسپانوي او مصري واکمنو تر منځ د دوستانه اړیکو ذکر هم کړی دی، د تونس شاه د مصر سلطان ته د سمندر له لارې د خرو لوړ نسل لرونکي خره ور لیږلي وه؛ خو، په کومه بحري بیړۍ کې، چې دا خره لیږل کیدل، هغه د طوفان په وجه له منځه ولاړه، په دې بیړۍ کې د ابن خلدون خپل ماشومان وه، د مصر سلطان د تونس شاه ته د افسوس پیغام استولی وه او هغه ته یې ډېرې زیاتې ډالۍ ور ولیږلې، په ۷۹۹ هـ کال کې هغه یوه ډله تونس ته د خرو د اخیستلو لپاره ولیږله، کله، چې دا ډله مصر ته راغلل؛ نو ، د تونس او شمالي افریقا د امیرانو لخوا ورته ډېرې زیاتې ډالۍ ورکول شوې وې، هغه لیکي، کله، چې عامو خلکو ته دا ډالۍ د نمایش په ډول وړاندې شوې؛ نو، ما ځان ډېر محترم او معزز حس کړ، ددې واکمنو تر منځ دوستي او ملګرتیا زما په وجه رامنځته شوې وه.

د بیت المقدس سفر

ابن خلدون تقریباً څوارلس کاله د قاضي القضات له دندې ګوښه وه، هغه په خپله وایي، زما پر ضد د دښمنانو او کینه ګرو سازشونه روان وه، دغو خلکو سلطان زما پر ضد بدګمانه کاوه، دغه خلک د یوې ډلې په شکل منظم وه او هغوی غوښتل، چې ماته باید بیرته د قاضي القضات دنده ونه سپارل شي؛ خو، کله چې دغه خلک له منځه ولاړل او سلطان هغوی بل هیواد ته تبعید کړل؛ نو، سلطان په لومړي فرصت کې هغه ته خپله پخوانی دنده ور وسپارله. په دې وخت د

مالکي مسلک قاضي نصیرالدین التانسي وفات شوی وه(د روژې په منځنیو کې کال ۸۰۱ هـ)، ابن خلدون دغه مهال په خپل پټي کې، چې د محیاه مدرسي لخوا ورکول شوی وه، په غنمو ریبلو بوخت وه، سلطان هغه ځان ته راوغوښت او په دویم ځل یې د قاضي القضات په چوکی وګماره. څو میاشتي وروسته د شوال په میاشت کې سلطان وفات شو، زوی یې **الناصر فرج** د هغه پر ځای واکمن شو، د حکومت حالات خراب وه او ځآی ځای بغاوتونه هم لیدل کیدل، کله، چې حالات ښه شول؛ نو، ستر مؤرخ د سلطان د بیت المقدس د تلو اجازه وغوښته او سلطان هم هغه د تلو اجازه ورکړه، ابن خلدون هلته لرغونو ودانیو او خرابو شویو ځایونو ته ولاړ او هم د اقصی د مسجد، الخلیل د مقبرې او نورو زیارتونو سیاحت وکړ، بیت اللحم ته هم ولاړ؛ خو، هلته موجودي کلیسا ته د ورننوتو څخه یې انکار وکړ، د هغي په هکله خپله داسي وایي، د عیسایانو عقیده ده، چې دوی هلته حضرت عیسی علیه السلام صلیب کړی دی؛ ځکه، نو عیسایانو هلته ښکلي کلیسا ودانه کړې ده، زه ددې نه انکار کوم؛ ځکه، کلیسا ته ننوځم. ددې وروسته هغه بیرته راغی او د سلطان په هغه جلوس کې یې برخه واخیسته، کوم چې د شام نه بیرته قاهرې ته را روان وه، دا پیښه د ۸۰۲ هـ کال د روژې په پای کې شوې ده.

د ۸۰۳ هـ کال په محرم کې د دویم ځل لپاره د قاضي القضات له دندې نه ګوښه کړای شو، موږ ته دا کار د هغه د دښمنانو ښکاري، د ډیر وخت راهیسي، چې د هغه او دښمنانو تر منځ یې کوم حالات وه، دده له دندې په ګوښه کیدو باندې پای ته ورسیدل.

کله، چې قاهرې ته د **امیر تیمور** دا خبر ورسیده، چې هغه پر شام حمله کړې او ډیره وینه یې تویه کړې؛ نو، د مصر په دربار کې حالات ترینګلي شول، سلطان **الناصر فرج** د خپل فوځ سره د تاتاري فوځ پر ضد جګړې ته ووت، د هغه سره د فوځ سربیره زیات علماء او فقها هم مل وه، د هغه سره څلور قاضیان هم وه، چې یو په کې ابن خلدون وه، ابن خلدون د شمالي افریقا تجربو ته په کتو سره، دې سفر ته خوشاله نه وه، هغه په خپله وایي، چې سلطان ته یې ډیر حیلې او بهانې وکړې، چې ددې تګ نه پاتې شو؛ خو، بریالی نه شو او سلطان ځانګړي حاجب یشبک هغه ته ډیر عذر وکړ او زیاتي تحفې یې ورکړې، هغه یې په دې تګ باندې راضي کړ، ابن خلدون دغه پیښي لیکلي دي او پیل یې د تاتاریانو او سلجوقیانو د عروج او زوال څخه کړې دی، دغه کاروان د ۸۰۳ هـ کال په ربیع الاول کې له قاهرې څخه روان شو او د جمادی الاول په لومړی اونی کې دمشق ته ورسید، ابن خلدون او نور علماء په عدلیه مدرسه کې اوسیدل؛ خو، مصري فوځ د دمشق په شاوخوا سیمو کې د تاتاریانو سره جګړې ته ولاړ.

د امیر تیمور سره لیدل

کله، چې مصر ته دا خبر ورسید، چې **امیر تیمور** کوچنی اسیا نیولي او سیواس یې محاصره کړی او د شام خوا ته روان شوی دی؛ نو، سلطان خپل فوځ راټول کړ او اعلان یې وکړ، چې فوځ به یې شام ته ځي.

ابن خلدون وایي: په دې وخت کې ما کومه دنده نه درلوده؛ خو، د سلطان سکرتر ټینګار وکړ، چې باید د سلطان سره یو ځای لاړ شم، کله، چې ما د هغه غوښتنه ونه منله، هغه په ډیر اکرام او احترام سره بیا رانه غوښتنه وکړه او څه ډالی یې هم راکړې، په دې زه ورسره روان شوم.

زه په دویم سبا د میلادالنبي علیه السلام په منځ کې ورسره روان شوم، کله، چې غزې ته ورسیدو؛ نو، څو ورځې مو ارام وکړ او د نویو خبرونو انتظار مو ویست، وروسته د دمشق په لور روان شو، تر څو د تاتاریانو د راتګ نه مخکي هلته ورسیږو، د هغه ځایه په لار کې شقحب کې کوز شو او سبا سهار دمشق ته ورسیدو، په دې وخت د **امیر تیمور** فوځ د بعلبک نه د دمشق په لور روان شوی وه.

سلطان خپله او نورې خیمې په قبه یلبغا کې ودرولې، کله، چې امیر په ښار باندې په یو ځل حملې کولو نه مایوسه شو؛ نو، **هغه** یوه نږدې غره سره یوه میاشت تیره کړه، په دې ډول داوړه فوځونو د یو بل حرکات او سکنات په ښکاره ډول لیدلای شول، په دې دوران کې د دواړو فوځونو تر منځ درې، څلور وارې کوچنی جګړې هم وشوې، کله، به یو لښکر بریالی کیده او کله به بل بریالی کیده.

په دې وخت ځینو امیرانو ته دا خبر ورسیده، چې ځینې هغه امیران چې مصر ته تللې، هغوی هلته خلک بغاوت ته هڅوي؛ نو سلطان پریکړه وکړه، چې باید مصر ته ولاړ شي؛ ځکه، کیدا شي، چې د هغه په نه موجودیت کې خلک حکومت چپه کړي.

هغه د جمادی الاول په ۲۱ تاریخ د شپې روان شو، د صالیحه غرونو ته ورسیده او د هغه ځایه د سمندر له لارې غزې ته ورسید.

او بیا د شقحب له لارې مصر ته ورسیده.

په دویم سهار د دمشق خلک حیران وه؛ ځکه هغوی ته درست خبرونه نه وه رسیدلي، ددې وروسته قاضیان او فقها ماسره د لیدو لپاره د عادلیه مدرسې ته راغلل او دا پریکړه مو وکړه، چې د **امیر تیمور** نه باید د خپل اهل و عیال لپاره امان وغوښتل شي؛ خو، کله مو چې د کلا د نائب سره ولیدل، هغه دا کار خوښ نکړ او نیوکه یې وکړه؛ خو هغوی د نائب خبره ونه منله او قاضي برهان الدین او ابن مفلح الخبلی د صوفیانو د شیخ سره د **امیر تیمور** د لیدو لپاره روان شوه، هغه د امن ورکولو ژمنه ورکړه او بیرته یې را ولیږل، چې هغوی باید د ښار مشران او نور قاضیان ورته را ولیږي.

قاضیان او نور مشران خلک بیا د امیر تیمور لیدو ته ولاړل، امیر تیمور تحفې او ډالۍ ګانې ومنلې او د امن ورکولو لیکونه یې ولیکل او هغوی یې رخصت کړل، هغه ژمنه وکړه، چې دویمه ورځ به د ښار دروازې خلاصوي او خلک به خپل کاروبار ته پریږدي او دا یې هم وویل، چې **امیر تیمور** به ښار ته ننوځي، حکومت به جوړوي او په خلکو به حکومت کوي، قاضي برهان الدین ماته خبر راکړ، چې **امیر** زما نوم اخیستی دی او دا یې هم ویلي دي، چې زه فوځ سره مصر ته تللی یم، که تر اوسه دلته یم، **برهان الدین** ورته په ځواب کې ویلي وه، چې هغه تر اوسه دلته په مدرسه کې دی او هغه د پخوا څخه دلته اوسیده، موږ دغه شپه هغه ته د ورتګ لپاره چمتوالی نیوه.

د جامع جومات په انګړ کې د ځینو کسانو تر منځ جګړه شوه، ځینو خلکو د **امیر تیمور** په خبرو باندې باور نه درلوده، زه د شپې ناوخته خبر شوم او وډار شوم، هڅې نه چې څوک مې ووژني، سهار هغو قاضیانو ته ورغلم، چې د ښار په دروازه کې راټول شوي وه، ما د هغوی نه د ښار نه د تلو اجازه وغوښته؛ خو، هغوی ونه منله، وروسته یې ماته د ښار نه د بیرون تګ اجازه راکړه.

د دروازې نه بهر مې د **امیر** ځینې خاص خادمان ولیدل او هغه شخص مې هم ولیده، چې د دمشق په حکومت یې ګمارلی وه، ددې شخص نوم **شاه ملک** وه، چې دا شخص د امیر د **چغتایي** د قبیلې څخه وه، ما هغه ته وویل، چې خدای تعالی دې تاته اوږد ژوند درکړي، بیا مې ورته وویل، چې زه ستا یرغمل یم، هغه راته کړه، چې موږ هم ستا یرغمل یو، شاه ملک ماته یوه سپرلۍ وړاندې کړه او د سلطان خاص خادم یې ماسره ولیږه، چې ما امیر ته ورسوي، کله، چې د امیر خیمې ته ورسیدو؛ نو، ځواب راغی، چې ما دې په هغه بله خیمه کې، چې د ملاقاتونو لپاره ده، هلته کینوي.

کله، چې زما د نوم خبر ورکړل شو؛ نو، زما د نوم سره یې د (مغربي مالکي قاضي) الفاظ زیات کړل، **تیمور** زه وغوښتلم او کله چې خیمې ته ورغلم؛ نو د خوراکونو قابونه یې له مخې تیریدل، دا قابونه هغو مغلو ته وړل کیدل، چې د دایرې په شکل د خیمې مخې ته ناست وه.

په داخلیدو سره مې سلام وکړ، هغه خپل سر اوچت کړ، خپل لاس یې ماته راکړ او ما یې لاس چپ کړ، بیا یې ماته د کیناستو اشاره وکړه، وروسته یې یو معتبر حنفي عالم **عبدالجبار بن النعمان** راوغوښت، هغه د خوارزم اوسیدونکی وه، هغه یې ددې لپاره راوغوښت، چې زموږ دواړو تر منځ د ژباړن دنده تر سره کړي او هغه ته یې هم د کیناستو حکم وکړ.

هغه زما نه پوښتنه وکړه، چې ته د مغرب د کومې سیمې نه راغلی یې او د څه لپاره راغلی یې، ما ورته وویل، زه د حج د فریضې د اداء کولو لپاره راوتی وم، زه د سمندر له لارې مصر ته راغلم.

تیمور زما نه پوښتنه وکړه، چې الظاهر (سلطان) ستا سره څنګه رویه وکړه، ورته کړه مې، هغه زما درجه ومنله، زما یې قدر او مهمان نوازي وکړه او د حج د سفر لپاره یې توښه هم راکړه، الله دې په هغه رحم وکړي، **تیمور** زما نه پوښتنه وکړه، هغه ته څنګه قاضي مقرر کړې، ورته کړه مې، د **الظاهر** د وفات نه یوه میاشت مخکې د مالکي مسلک قاضي وفات شو، هغه فکر کاوه، چې ددې لپاره زه (ابن خلدون) وړ شخص یم، هغه زه په دې دنده مقرر کړم؛ خو، یوه میاشت وروسته هغه ومړ، هغو خلکو چې زه یې نه خوښیدم، زما پر ځای یې بل قاضي مقرر کړ، الله دې هغوی ته جزاء ورکړي.

بیا یې زما نه پوښتنه وکړه، ته چیرته پیدا شوی یې، ورته کړه مې، په مغرب کې دننه، چیرته چې زه د ملک الاعظم سکرتر وم.

هغه وپوښتم، په مغرب کې د دننه څخه مطلب څه دی؟.

ورته کړه مې، د هغه ځای خلک دننه هغه ځای ته وایي، چې ډیر وروسته پاتې وي.

بیایې پوښتنه وکړه، فاس چیرته دی؟ ورته ومې ویل، دا د غرونو په منځ کې پروت ځای دی او **بن مرین** د حکومت مرکز دی.

ما ورته وویل، زه به ستا د لاس لاندې کار کوم. کله، چې د هغه څخه تلم؛ نو، هغه څه مې ورته ولیکل، چې هغه یې غوښتنه کړې وه او هغو لیکلو ته یې کتابي بڼه ورکړه.

خپلو خادمانو ته یې اشاره وکړه، چې ده ته د خیمې څخه ډوډۍ راوړی، ډوډۍ یې د هغې خیمې څخه راوړه، چې د (رشته) په نوم یادیده او ددې خیمې خلک د ډوډۍ په تیارولو کې زیات ماهر وه، د خوراکونو څو ډوله قابونه یې راوړل او زما مخې ته یې کیښودل، زه ودریدم، هغه مې واخیستل، ومې خوړل او ومې څښل، دا کار **امیر تیمور** ډیر خوښ شو.

بیا کیناستو او ټول غلي وو، هغه کار چې د شافعي مسلک د قاضي القضات **صدرالدین المناوي** سره شوی وه، په ویره کې یې اچولی وم.

ما وویل، الله دې تا ته بری در په برخه کړي! د نن نه دیرش، څلویښت کاله پخوا زه ستا د لیدو لیواله وم، ژباړونکي **عبدالجبار** وویل، او ددې وجه څه وه؟.

ورته کړه مې: ددې دوه وجې دي، لومړی هغه یې داده، چې ته سلطان العالم او د نړۍ حاکم یې، زه یقیني یم، چې د ادم علیه السلام نه واخله، تر دې وخت پورې به ستا په شان کوم بل واکمن نه وي تیر شوی، زه د هغو خلکو څخه نه یم، چې بې ثبوته خبرې کوي، زه د علم خاوند یم او دا خبره ثبوت ته رسولی شم، وروستني او مخکیني ټول پر دې خبره متفق دي، چې د نړۍ زیات خلک په دوه ګروپونو باندې ویشل شوي دي، عربان او ترکان، تاسو ښه پوهیږئ، چې عربان هغه وخت قوي شول، چې کله هغوی د خپل مذهب په پیروی کولو باندې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر شاوخوا باندې راټول شوه او د ترکانو خبره داده، چې د ایران د واکمنو سره جګړې او د افراسیاب لخوا د ایرانیانو او خراسان نیول، او د نړۍ ستر پاچاهان، هغه که کسری، قیصر، سکندر او یا هم بخت نصر وي، هغوی

(ترکانو) ته نشي رسيدای، کسری د ايرانيانو پاچا وه؛ خو، ايرانيان له ترکانو سره کله جګړه کولای شي، بخت نصر د بابل او نبطيانو حاکم وه، د هغه او ترکانو جګړه؟.

دويمه وجه، چې زه يې د **امير تيمور** د ليدو ليواله کړی وم، هغه داده، چې ستا په اړه ماته او ستا ټوله قيصه په مغرب کې ما اوريدلې ده.

هغه ماته وويل، تا د کسری، قيصر او سکندر تر څنګ د بخت نصر نوم هم واخيست، په داسې حال کې، چې بخت نصر هغوی ته نه شي رسيدای، هغوی ټول ستر پاچاهان وه.

هغه بيا زه وپوښتم، بخت نصر د کومو خلکو پورې تړلی وه؟ ورته کړه مې، د هغه په اړه په خلکو کې اختلاف موجود دی، ځينې وايي، چې د نبطيونو سره يې اړيکه درلوده، ياني د بابل د وروستيو پاچاهانو سره او ځينې وايي، چې هغه د لرغونو ايرانيانو څخه وه.

هغه وويل: ددې مطلب دا شو، چې هغه د منوچهر د اولادې څخه وه؟

ورته کړه مې، هو دا درسته ده او همداسې مشهوره هم ده. خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ او ويې ويل: موږ د خپلې مور له طرفه د منوشهر سره اړيکه لرو، ما ژباړونکي ته وويل، دا دويمه وجه وه، چې زما په زړه کې يې د **امير تيمور** سره د ليدو ليوالتيا پيداکړې وه.

بيا امير وويل: د بخت نصر په اړه په دې دوه نظرونو کې ستا لپاره کوم نظر قوي برېښي؟ ورته کړه مې، هماغه چې هغه د بابل د وروستيو پاچاهانو څخه وه (نبطيانو څخه)؛ خو، هغه دويم نظر ته ترجيح ورکړه، ورته مې ويل، راځئ د طبري نظر وګورو، چې هغه څه وايي، هغه داسې مؤرخ دی، چې څوک د هغه په رايه باندې د بل چا رايې ته ترجيح نه ورکوي، هغه وويل، د طبري د قول منل خو واجب نه دي، ژباړونکی دې ايراني او عربي کتابونه راوړي او تا سره دې بحث وکړي، ورته کړه مې او زه به د طبري په رايه باندې بحث کوم، په دې سره بحث ختم شو او هغه چوپ شو.

هغه ته خبر ورکړل شو، چې د ښار دروازه خلاصه شوې ده او قاضيان د خپلې ژمنې د پوره کولو لپاره بيرون راوتي دي.

د تکليف د لرلو سره، هغه زموږ له مخې نه اوچت شو او په اس باندې کينول شو، په زين باندې کيناست او شلورو خوا باجې وغږول شوې، هغه د دمشق په لور روان شو او تربت منجک سيمې ته نږدې کوز شو.

هلته، يې مجلس جوړ کړ، د ښار قاضي او مشران يې خدمت ته حاضر شول، زه (ابن خلدون) هم هلته حاضر شوم، وروسته يې هغوی رخصت کړل او خپل نائب شاه ملک ته يې امر وکړ، چې هغوی دولتي تقديرنامې ورکړي؛ خو، ما ته يې د کيناستو اشاره وکړه او زه يې مخې ته کيناستم.

هغه امرين يې راوغوښتل، چې د تعميرونو د جوړولو لپاره يې ګمارلي وه، هغوی انجينران راوستل او د کلا شاوخوا اوبو په اړه يې خبرې وکړې، چې ايا کولای شو، دغه اوبه بيرون وباسو، هغوی تر ډير وخت پورې په دربار کې ناسته وه او بيا يې رخصت کړل.

ما ته يې هم رخصت راکړ او د ښار دننه خپل ځای ته راغلم، زه په خپل کور کې بند وم، څرنګه، چې هغه ما نه د مغرب د حالاتو غوښتنه کړې وه، ما يې په ليکلو باندې پيل وکړ، په څو ورځو کې مې دا کار پای ته ورساوه او کله، چې مې د هغه خدمت ته وړاندې کړل؛ نو، زما له لاسه يې واخيستل او خپل سکرتر ته يې امر وکړ، چې مغولي ژبې ته دې وژباړل شي.

له دې وروسته هغه په ډير قوي شکل سره ښار کلابند کړ، د کلا مقابل لوري ته يې، منجنيقونه، د اور او کانو و ورولو ماشينونه او درز اچونکي توپونه ودرول، دا کار په څو دقيقو کې وشو، محاصره نوره هم تنګه شوه او د کلا

دیوالونه درز شول، په کلا کې داسې خلک وه، چې د امیر خدمت یې کړی وه؛ نو، ځینو ساتونکو د امیر نه د امان غوښتنه وکړه، امیر هغوی ته امان ورکړ او د امیر مخې ته راوستل شول، کلا یې له منځه یوړه او د کلا ټولې نښې یې له منځه یوړې.

په هغو ورځو کې، چې زه د سلطان سره اوسیدم، ټیک په هماغه ورځ، چې هغه کومو خلکو امان ورکړی وه، د کلا نه یو شخص راووت، دا شخص د مصر د خلیفه ګانو له اولادې څخه وه او الحاکم عباسي د کورنی څخه وه، هغه خپل ځان د امیر مخې وړاندې کړ او ویې ویل، چې: زما په معامله کې ما سره انصاف وکړه او ما ته خپل خلافت وسپاره؛ ځکه، هغه زما د مشرانو میراث دی.

سلطان تیمور ورته وویل: زه ستا لپاره قاضیان او فقها راغواړم او هغوی چې کومه پریکړه وکړه، هماغه به پلي کوم.

بیا تیمور قاضیان او فقها راوغوښتل، زه یې هم د هغوی سره ور وغوښتم، موږ هغه ته ورغلو، هغه شخص، چې د خلافت غوښتنه یې کوله، هغه هم حاضر شو، عبدالجبار وویل، دا د عدالت او انصاف ځای دی، هر څه چې وایي، هغه دې و وایه.

هغه شخص (الحاکم) وویل: دا خلافت زما او زما د مشرانو حق دی، هغه روایت بیخي درست دی، چې وایي، تر څو چې نړی وي، خلافت به د عباسیانو سره وي، زه د هغو خلکو په نسبت، چې نن په قاهره کې واکمن دي، د خلافت ښه حقدار یم؛ ځکه، چې دا زما او زما د مشرانو روا حق وه او دی او دغه شخص بغیر د کوم قانوني سند نه تر لاسه کړی دی.

عبدالجبار زموږ هر یو نه غوښتنه وکړه، چې بحث وکړو، موږ د څه وخت لپاره چوپ وو، وروسته هغه زموږ څخه وپوښتل، تاسو ددې روایت په اړه څه وایی؟.

برهان الدین ابن مصلح ځواب ورکړ، دا روایت درست نه دی او بیا یې زما نظر وغوښت، څرنګه چې وویل شول، دا روایت درست نه دی.

سلطان تیمور وویل: ښه، نو بیا ولې تر اوسه پورې خلافت د عباسیانو په لاس کې وه؟ هغه دا خبره نیغه ماته وکړه او ما ورته وویل:

الله تعالی دې تاته برې درکړي، د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته د مسلمانانو تر منځ په دې اړه اختلاف موجود دی، چې ایا په مسلمانانو باندې واجب دي او کنه، چې هغوی په دنیاوي او اخروي کارونو کې د ځان لپاره یو والي (مشر) وټاکي، د یوې ډلې نظر دادی، په دې ډله کې خوارج هم شامل دي، چې والي ټاکل واجب نه دي؛ خو، اکثریت وایي، چې ولایت واجب دی، ددې واجبیت سند څه دی؟، ټول شیعه د حدیثو په وصیت باندې ټینګار کوي، هغوی وایي، چې پیغمبر علیه السلام حضرت علي (ک) ته د خلافت وصیت کړی وه؛ خو، حضرت علي (ک) وروسته د شیعه ګانو تر منځ دومره اختلافات رامنځ ته شول، چې شمارل یې ناممکن دي. د اهل السنتو ټولو علماوو ددې وصیت څخه انکار کړی دی، هغه د واجبیت سند اجتهاد بولي، ددې څخه یې مطلب دادی، چې مسلمانان باید د ځان لپاره یو بایمانه، پوه او وړ شخص مشر وټاکي، تر څو د دوی امور په ښه طریقه سره سرته ورسوي او دوی باید په ټاکلو کې زیات احتیاط وکړي.

کله، چې علوي ډلې زیاتې شوې؛ نو، د وصیت په رایه یې خلافت منتقل کړ، د محمد بن حنیفه د کورنی نه عباسي کورنی ته ورسیده، محمد بن حنیفه، محمد بن علي بن عبدالله بن عباس ته وصیت کړی وه، هغه خراسان ته هم خپل استازي لیږلي وه، هلته ابو مسلم دغه دعوت پر مخ وړه، دی د خراسان او عراق واکمن شو، ابوالعباس سفاح د عباسي خلافت مشر وټاکل شو، هغه د اهل السنتو او شیعه ډلو څخه یې د بیعت غوښتنه وکړه او هغوی د خلیفه په توګه قبول کړ.

سفاح خېل ورور منصور ځای ناستی مقرر کړ او منصور خپل زامن خپل ځای ناستي وټاکل، په دی ډول خلافت په عباسيانو کي د جانشين ټاکلو يا د خلکو د خوښي مطابق پاتي شو، **المستعصم** په بغداد کي وروستی عباسي خليفه وه، هلاکو خان ووژلو او خلافت يي رنګ کړ، پاتي کورنی يي يي قاهرې ته راغله، په دوی يو **احمد الحاکم** وه، چي د الراشد د اولادې څخه وه، هلته د الظاهر بيبرس لخوا د حل او عقد او فقهاوو په مشوره خليفه وټاکل شو، دا خلافت نن دغه شخص ته (چي په مصر کي واکمن دی) ورسيد، ددې پيښو څخه بغير نور ماته د کومي بلي خبرې علم نشته.

تيمور هغه دعوه دار ته مخ ور واړاوه او ورته ويې ويل: تا د قاضيانو او فقهاوو خبرې واوريدې او ددې څخه مالوميږي، کوم خلافت چي ته زما څخه غواړې، هغه ستا حق نه دی، ته بيرته لاړ شه او خدای دې تاته سمه لاره در وښيي.

نوربيا